مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ژباړه: سمسور ودان

۲۰۲۶/۱۱/۰۹

په غزل الزام

ابوالحسن علی ندوي په خپل کتاب کې لیکي:

د ۱۹۷۵م کال په (آل انډیا) مشاعرې کې یوې پېغلې شاعرې د حسن او ترنم وړاندې کولو موقع ترلاسه کړه. چې اغلې غز ولوست، نو اورېدونکو په ډېرې زیاتې واه واه بدرګه کړه.

غزل ډېر بد نه و، خو له هغې شاعرې په وارخطایي کې زور، زیر او پېښ سره غلط شول، چې د روغو کلمو تلفظ یې ناروغ کړ.

مهندر سینګ بیدي سحر خو ښکاره وویل چې دا غزل د اغلې نه دی او د بل چا په شعر یې داد وصول کړ.

چې پېغله شاعره ببرته خپلې ځوکې ته راوګرځېده نو یو مداح شاعر د نومرو جوړولو په خاطر ورته وویل: محترمې! ستا شعر خو ټوله مشاعره وګټله.

نو بیدي سحر ورته وویل: داسې ووایه چې تا مشاعره وګټله په غزل ببچاره خو الزام مه لګوه! په دې ځواب سره شاعره او مداح شاعر دواړه ډېر بد چوپ شول.

ژباړه

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ